تل افغان

www.talafghan.com

خپلواکه ، ناپیلي ، ټولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه

بســـــمل

۲۰۱۱.۰۳.۱۱



# ایران زموږ تاریخي دښمن دی

زموږ د ګران هیوادافغانستان جغرافعوي موقعیت په یوه داسې سیمه پورې تړاولري چې را نه تاو ګاونډیان مو د حساب خلګ نه دي، یو شمېر خورا خطرناک اوپه زړه سخت دي اودانور بیاهرانساني او اخلاقي مسؤلیت ته ملا ماتي دي.

زموږ له ګاونډیانو څخه ځینو د خپل وس په اندازه زموږ په لمبوتېل وشیندل چې دالړۍ یې لاهمداسې جاري ساتلې ده خوځینې نوربیازموږ د کړاو نندارچیان شول او دي.

زموږ د ډېره ګیله له دا نندارچیانو څخه کیږی دوی بایددا درک کړای وای اودرک یې کړي چې دخپل ګاونډي د اورلمبې که د دوی کورته نه شي رسېدای لوګي خو یې خامخا ور رسیږي.

دوی له انساني او اخلاقي اړخه موږ ته پړه دي نسلونه به یو په بل پسې پناه شي ننني اشغالګر به سیمه لوټ یو وخت نه یو وخت به له سیمې څخه خپلې ناولې پښې سپکې او یاخو به په سیمه کې تباه شي خوتاریخ به دا ټول دروغ، ناخوالې او دسیسې له ځان سره ثبت او د راتلونکو نسلونو قضاوت ته کېږدي.

زموږ راتلونکي نسلونه به له هرڅه لمړی د خپلو ماضي مشرانو د وړتیا ، تورې اویا خودځینو تپل شوو کسانو لکه حامد کرزي او یو شمېر نورو اجنټانو په اړوند قضاوت وکړي دابه داسې وخت وي چې نه خو به کرزی شتون ولري او نه یې دریاکاري برګه چپنه موږ به هم په هغه وخت کې نه یو خو حق به حقدار ته رسېدلی وي.

زما منظور له حق او حقدار څخه دادی چې تل به د دروغو نغارې نه غربیږي داهر څه به بدلون ومومي دنړۍ څېره به بدله شي دبډایو سیمو د چوراوچپاول په اړوند به د راتلونکي نسل لاس ته ماتق، مستند اسناداواثارپه لاس ورغلي وي د۲۰۰۱ سپتمبر د یوولسمې نېټې شرموونکې او غولونکې دسیسې به په خپل ټول زورسره لوڅې شوې وي دا به داسې وخت وي چې نه به اوباما پاته وي او نه یې اسامه دالقاعده نوم به په رسنیو کې سهار او ماښام څوک نه اوري د شورانظار، جمعیت اسلامي ، حزب اسلامي، حزب وحدت ،دقاتل دوستم جنبش او یو شمېر نورو ګوندونو د کرغېړنو اعمالو تابلوګانې به له اثارو سره یوځای په موزیمونو کې را ځوړندې شوې وي لنډه دا چې زموږ ننني ناورین به په ماضي پورې تړلی وي.

پورتني ځو کرښي مي يوازې دهغو کسانو لپاره وليکلې په کومو چي سترګې پټې او ديو ځو ډالرو لپاره دپلار نيکه هډونه له وياړونو سره يوځای پلوري په افغان ټولنه کې له دې ډول کسانو څخه ځکه دخلګو سخته کرکه کيږي چي دياد و بدو اعمالو ترڅنګ دخپل ناموث پروا هم نه لري.

راځم اصلي خبرې ته چي زموږ په مکارو ګاونډيانو را څرخي هو !

له بل هر ګاونډي څخه خطرناک ګاونډی زموږ تاريخي دښمن ايران دی دايران مکارو سياستوالو او پوځيانو وکولای شول چي د(طالب) په نوم د هېواد په لويديځو سيموکې داسې لنډه غر رامينځ ته کړي چي مستقيماً د شمال له ټلوالي سره تړاو لري.

پنځه کاله مخکې مي دبي بي سي راديودتاسو غږ په پروګرام کې هم دې خبرې ته اشاره کړې وه او په پروګرام کې مي برهان الدين رباني ته مخامخ وويل چي ته خودې ګډوډي ته ښه خوښ يې چي پښتون مېشتې سيمي تل نا ارامي او دښووني او روزنې ډېوې پکې مړې شي، دا دی اوس خو ايران دوسلوالو مخاليفينو په نوم يو ځو مشکوکو کسانو ته ځمکني ماينونه ورکړي او په پښتون مېشتو سيمو کې ددې لپاره نا ارامي رامينځ ته کوي چي هم امريکايانو ته دبمباري پلمه برابره کړي اوهم هلته دنا ارامیو له کبله ښوونځي وتړل شي، ځوانان دبې کاري له سببه يا وطن پرېږدي او يا دوسلوالو مخاليفينو په نوم جګړې ته دوام ورکړي.

دا داسې وخت و چي ايران له يوې خوا په پټه افغان خاورې ته ماينونه را لېږل او له بلې خوا يې حامد کرزي ته لا له هغه وخته دپيسو دکڅوړو لړۍ پيل کړې وه.

دې دوه اړخيزې او غير انساني لوبې ته دوه جګړيزې جبهې هم وبلای شو.

ايران دانا روا جګړه په پوره بريالیتوب سره په مخ بوتله يو شمېر وسلوال کسان يې په هرات، نيمروز، فراه او ځينو نورو ولايتونو کې دومره غښتلي کړل چي په دا نږدې يوه لسيزه کې دکابل تش په نامه حکومت په دې ونه توانېد چي دسلما او ځينو نورو مهمو بندونو چارې سر ته ورسوي زموږ اوبه لا همداسې مفتې ور رواني دي په سلګونو ښوونځي دايران په مداخله تړل شوي دي په کندهار کې دنجونو په مخ دتېزابو دسيسې هم دايران لخوا سازماندهي شوي وې نفر يې ګرفتار هم شو خو حامد کرزي کومه سزأ ورنه کړه دا ځکه چي دايران په دوهمه جبهه کې مانا دپيسو په کڅوړو کې له حامد کرزي څخه ماران را تاو دي داماران به هغه وخت کرزي ته نېښ ورکړي چي دايران ټولې نقشې دکرزي په نوم او وسيله سر ته ورسيږي.

آيا تاسو هم کوم بل ځای اوريدلي يا ليدلي دي چي ديو هيواد ولسمشر دخپل دفترلګښتونه له کوم بل مملکت څخه وغواړي ؟

څرګنده خبره ده چي داکارکوم بل ځای نه دی شوی اوکه شوی هم وي نو هغه به غير مغرضانه وي خو د ايران لخوا دپيسو کڅوړې دزهرو هغه جام ته ورته دي چي څښونکي به يې په تدريجي مرګي ومري او خوراپه ټيټو سترګو به ومري.

له ارګ څخه ديو تازه او کره مالومات له مخې حامد کرزي دايران د پيسو کڅوړې د دفتري لګښتونو لپاره نه بلکې زياتره برخه يې په ځينو نورو چارولګوي دا به له خيره سره په بله ليکنه کې تاسو ته وړاندې کړم خو اوس به يو ځل بيا دايران لمرۍ پوځي جبهې ته ورشو .

تاسو به وړمه ورځ د رسنيو له لارې ليدلي،لوستلي او اوريدلې وي چي ايران په اصطلاح وسلوالو مخاليفينو (طالبانو ) ته داسې راکيټونه ورکړي دي چي هم يې لېږد اسانه دی اوهم په شل کيلو متري کې هدف له مينځه وړي .

دا وسله په داسې وخت کې نيوله کيږي چي دايران دکورنيو چارو وزير کابل ته راځي او په ډېره سپين سترګي سره وايي چي:

ايران دافغانستان ثبات او ارامي غواړي.

له بلې خوا دشمال ټلوالي لوړ رتبه غل او داړه مار دکورنيو چارو اوسنی وزير بسم الله محمدي وايي :

ايران زموږ داسې ګاونډی دی چي تل يې دافغانستان په بيا رغونه او امنيت کې برخه اخيستې ده .

قدرمنو لوستونکو !

قضاوت به تاسو ته پرېږدم محمدي کومه بيا رغونه او امنيت ښيي ؟
ايران کوم ظلم په موږ و نه لوراوه؟
څومره بېګناه افغانان يې غرغره او بې عزته کړل؟
زموږ دهيواد په فرهنګي برخه کې کومه جفا وه چې ايران و نه کړه؟
آيا دا اوسنی ددروغو پارلمان دايران په دسيسه نه دی را مينځ ته شوی؟
آيا زموږ يو شمېر پلورل شوي روڼ انده او ژورنالستان دايراني فارسي د ترويج او زموږ د دري ژبې د ورکې لپاره کار نه کوي؟
آيا دا پرون پرون دکندهار په ژړۍ ولسوالي کې له خلورو کارګرانو څخه دغوږونو دغوږولو پېښه دايران لخوا نه بولئ ؟
وروستۍ پوښتني ته به راشم هغه داچې ايران اويادانورغليم ګاونډيان چې هرڅه کوي خو د خپلو ناروا موخو لپاره به يې کوي موږ افغانانو ته څه کول په کار دي چې دا ناخوالې له مينځه يوسو ؟
خبرې ډېرې خوسر يې يو دی او هغه داچې د ورونو قومونو ديووالي اوملي پخلاينې په رڼا کې دکابل دلاس پوڅي، پوډري، فاسد ، شرمېدلي او تش په نامه حکومت بديل ولټوو او بس.

يادونـــــــــــه:

په دانږدې لسو کلونو کې د حامد کرزي مصلحتبازيوما ته دا فکر را پيدا کاوه چې داله ناچارۍ ورځې له جنګي جنايتکارانو سره سازش او مصلحت کوي خو نن چې دکرزي دکورنۍ شجره بربنډه شوه نورنو حامد کرزی په رښتيا هم يو دشرم وړ کس دی دحامد کرزي دکورنۍ دلا ښې پېژندنې لپاره دا لاندې لينک کښېباسئ:

http://larawbar.org/details.php?id=25534&date=2011-03-11




همدا راز دايران د دسيسو يوه بله بېلګه هم په دې لاندې لينک کې ليدلای شئ:

http://www.khabaryal.com/fullstory.php?id=11038&CatID=59

په روحي ويبپاڼه کې دا لاندې مطلب هم په لوستلو ارزي خو

- ايران او انګلستان يو بل طالبانو ته د وسلو په ورکولو تورنوي

د ايران حکومتي رسنۍ د رېپوټونو له مخې ، انګلستان له طالبانو سره د څو ځله پټو خبرو اترو وروسته دوی ته نيمه درنې وسلې ورکړې دي. د ايران رسنيو دغه خبر د باخبره سرچينو له قوله ښودلی خو نوم يې نه دی ياد شوی او کره توب يې هم ناڅرګند دی.

له بلې خوا بهرنيو ځواکونو د افغانستان په نيمروز ولايت کې هغې وسلې ونيولې، چې د ايران لخوا طالبانو ته ليږدول کېدې. په دې اړه د انګلستان د بهرنيو چارو وزير ويليم هېګ وويل، چې د ايران لخوا طالبانو ته د وسلو ليږل د زغملو وړ نه دي. هيګ همدا راز ويلي، چې دوی ته ثابته شوې، چې دغه وسله د ايران له خوا طالبانو ته په دې موخه راليږل شوې وه، چې د بهرنيو ځواکونو او د هېواد دننه يې د خلکو پر ضد وکاروي او دا د هغه څه خلاف دي، چې ايران يې ژمنه کړې.

سپينتمان

له لراوبر ، روحي او خبريال ويبپاڼو څخه په مننه